# د پښتو ما بعد جدید غزل پلټنه او څېړنه

(Post-modernism in Pashto Ghazal a critical analysis)

Dr. Nasrullah Khan Majnoon[1]
nkbmajnoon@gmail.com
03025520067
Tufail Ahmad ZaryabYousafzai[2]
zaryabyousafzaiicp@gmail.com
03466607224

Issn 2304 1498

## Abstract:

**Ghazal is the most popular genre of Pashto poetry. It has highlighted Pashtun nature and psyche with its social aspects. Ghazal is the genre which made the history of Pashtun literature through its different style and subjects. in the era of political and social crisis Ghazal has performed its fore most duty to express the emotional back ground of its people and bring the social and political change in the Pashtun society.in the historical journey of the ghazal in Pashto when we are talking the style and subjects of ghazal we surprise that Pashto ghazal has traveled in the critical situations and make a candle in the dark age of Pashtun history>now a days it is also lightening our social and cultural darkness. Today the poet has awareness of the situations of the society>He is aware of the down falloff the society and knows how to retrieve his nation and society from these**

---

[1]AP,Rahman Baba Chair Department of Pashto ICP.

[2]Lecturer in Pashto, Rahman Baba Chair Department of Pashto ICP.

**types of unsuitable situations. This paper will discuss the the journey of the Pashto ghazal through post modernism and will try to bring the reality behind the crucial cultural and social down fall of the Pashtun society through examples of the poetry given from yesterday and Today.**

غزل په بنيادي توګه د حسن او عشق په حقله خبرې هم کوي او ستائنه هم.د قلبي وارداتو اظهار د غزل خاصه ده.د ابتدائي دور په غزل کښې د عشق،عاشق،معشوق او رقيب د معاملاتو ذکر پرېوانه دے. ورو ورو پکښې د پند او موعظمت د تصوف او فلسفې عظيم روايت هم ځاے ونيوو.د غزل انفرادي اړخ د اجتماعيت شکل اختيار کړو.هر ياد شاعر د ذات د دائرې څنې لرِ رابهر شو او دنيا ته يې پام شو.د ميرزا خان انصاري نه تر حميد بابا او بيا کاظم خان شېدا او علي خان پورې غزل په خپل زوړ هيئت او اسلوب کښې د کلاسيکي روايت په بام ولاړ ؤ.يعنې د عشقيه کيفياتو مختلف جهتونه په شد او مد بيانېدل.بيا د غزل په موضوعاتو کښې د حالاتو په تناظر کښې ډېر بدلون راغے.لکه څنګه چې د ۱۸۵۷ ء د غدر نه پس حالي په دغه موضوعاتو بندېز ولګوو اود سادګۍ،اصليت او جوش په بنياد يې دې د حقيقي ژوند ترجمان کړو او غزل کښې يې د قوم د بيدارۍ انقلابي روح وپوکو او دغسې د غزل موضوعات بدل شو. دغسې د خدائي خدمتګارو په صف کښې ډېر داسې شاعران وو چې د خدائي خدمت ګارتحريک د جنډې او ايجنډې لاندې يې غزل کښې د ذهني او فکري تقاضو د تکميل سره سم سياسي او سماجي تقاضې هم سر ته د رسولو هڅې وکړې.دغسې د ۱۹۲۰ ء نه په پښتو غزل کښې د سياسي او سماجي ستونزو منظر کشي کولو ته دوام ورکړې شو.تر

دې چې حمزه بابا عشق ته هم په فلسفیانه نظر وکتل.

عاشـــقۍ لـــره تکمیـــل پـــه هجـــران ښـــهٔ وي
پائیـــدار بـــونړۍ کـــېږ وي تـــل پـــه لنګـــه[1]
د ژونـــد مـــړو ځینـــې زهٔ رازنـــده عشـــق کـــړم
لکـــه تخـــم د بقـــا کرونـــده عشـــق کـــړم[2]

ددې سره سم دغې روایت خپله لاره ونیوله او تصوف او فلسفه هم د غزل په وجود کښې ساه اخستل شروع کړو.هم د حمزه بابا اخري دور دجدید غزل ابتدا ده.حمزه بابا غزل ته د فکر او خیال ژورې وبخښلې.دهغه نه پس دغه اثر په ،اجمل خټک،غني خان ،سیف الرحمان سلیم ،مجذوب،اندېش ،سائل او اباسین یوسفزي ،علي خېل دریاب او داسې نورو ډېرو شاعرانو کښې په نظر راځي.
حمزه بابا د غزل د اصلاح په لار نور شاعران د جدید موضوعاتو سره اشنا کړل.لکه څنګه چې الطاف حسېن حالي د شاعرۍ د پاره څهٔ اصول وضع کړي وو او علامه اقبال ترې ښهٔ حظ او رڼا اخستې وه بلکې هغه پکښې یو څو قدمه وړاندې هم تلې وو او یو نوې رنګ او اهنګ یې د فکر او خیال د بوډۍ ټال له ورکړواو د خودۍ سره سره د خپل ځانګړې شناخت او د خپل قوم د بیدارۍ پېغام یې راړوې وو.د کوم څهٔ شکایت چې حالي کوو هغه اقبال سر ته ورسوو.دغسې کهٔ د مقدمه شعر و شاعري په تناظر کښې مونږ ګورو نو حمزه بابا غزل د خپل قوم د خودۍ، شناخت او بیدارۍ دپاره وکاروو خو د جدید غزل تشکیل او احیا کښې اجمل خټک، مجذوب،سلیم، ،ډاکټر یار محمدمغموم،اسیر منګل، اندېش،سائل ،عزیز،اباسین،دریاب اوداسې نورو

ځان له ځاے پیدا کړې دے.دوي په غزل کښې د داخلي کېفیاتو او قلبي وارداتو اظهار ښۀ په فنکارانه انداز کړي دے.سلیم ،اندېش او اجمل ختټک د ژوند د بنیادي حقائقو نه پرده پورته کړه چې پکښې سیاسي ،سماجي او معاشي کشالې راوړاندې کړې شوې.ددې نه وړاندې د ترقي پسند تحریک په تاثر کښې غزل له د انقلاب د نعرې رنګ ورکړې شو،د انقلاب زنده اباد د نعرو سره سم د ازادۍ د تحریک ډنډوره ،د سرمایې د نظام په ضد د راپورته شوې اواز،د وطن پرستۍ سندرې،د اشتراکي نظام ترجماني،د کارل مارکس نظریه،د شخصي په ځاے اجتماعي ستونزې،د مزدورانو نمائندګي،د ښځو حقوق،او د نوابادیاتي نظام اثرات یې په وجود کښې د راځاے کولو هڅې وشوې. په دغه دور کښې د خدائي خدمت ګار تحریک سره تړلي اکثرو شاعرانو ددې فلسفې په نمائندګۍ کښې غزل دنوي موضوعاتو سره اشنا کړو.د جدیدیت په تناظر کښې په غزل کښې د داخلي کېفیاتو اظهار په ازاد مټ شروع کړې شو.چې پکښې د انسان د تنهائۍ ،ذهني دباؤ، اذیت، اضطراب، کرب، بې روزګارۍ، جنسي شخړې، فرسټرېشن او داسې نورو ستونزو ذکر وکړې شو.د جدیدیت د اختیار کړي موضوعاتو مقصد او غایا د انساني وجود احاطه کول وو.د جدیدیت نه پس حالاتو ډېره بدله کړه او د سور د انقلاب نه پس شاعرانو نورې موضوګانې د خپل غزل په لمن کښې راونغښتې.ما بعد جدیدیت هغه موضوعات راوړاندې کړل کوم چې جدیدیت نۀ وو بیان کړي او یا د جدیدیت د دائرې نه بهر پاتې شوې وو.ما بعد جدیدغزل ګو شاعرانو کښې رسا،شیدا،قلندر،تسنیم،مفتون،ډاکټرعلي خېل دریاب ،ډاکټر شبر زمان سیماب،ډاکټر فرخنده لیاقت،ډاکټر سمندر یوسفزے،دروېش درانے،نواز یوسفزے،اقبال شاکر،زریاب یوسفزے او

داسې ډېر نور نومونه قابل ذکر دي.د دوي نه علاوه نور هم داسې شاعران شته چې په موضوعاتو کښې يې تنوع شته خو د اختصار له وجې د ټولو نومونه نۀ ليکم.اصل غايه دلته د موضوعاتو پلټنه ده. ما بعد جديد لا مرکزيت ته د اوليت درجه ورکوي.ما بعد جديد د جديديت دغه نظريه چېلنج کړي ده په کومه کښې چې انسان ته بنيادي او مرکزي حېثيت ورکړې شوې دے.ددې نظريې نه د انحراف په سوب د انساني وجود رشته او تعلق د سماج،معاشرت،تهذيب،او ثقافت سره جوړه شوه.د جديدې معاشرې بدلون،د نوې معاشرې مزاج،ذهني ستونزې،معاشرتي او ثقافتي فضا،د کلتور بدلون،د مشيني څيزونو اسعمال،سائنسي ايجادات،د وسلې بې ځايه تجارت،د الټرانک او ټکنيکل څيزونو نه پيدا کېدونکي شخړې،د ميډيا ضرورت،اشتهار بازي،کنزيومرازم،د کمپيوټر مثبت او منفي رويې،د علمي ذخيراندوزۍ نه پيدا کېدونکي ستونزې،د مختلفو کارونو دپاره بېل بېل پروګرام جوړول،صنعتي پيداوار،مصنوعي مشيني ژبه،فني تعليم،او پيشه ورانه ژوند د کائنات نه منډهۍ جوړه کړي ده چې پکښې هر څيز اخستے او خرڅېږي.د فنون لطيفه او علم و ادب کمرشل کېدل،د علم محکوميت،او د اليکټرانک مېډيا چپاؤ ټوله نړۍ ګډه وډه کوي لګيا دي.په هند کښې د کشمير مسئله ،د تقسيم بحران ،بابري مسجد ورانول،د ممبۍ بمي چاؤدنې،د افغانستان شخړې،د فلسطين حالات،د ګجرات فسادات،د قبائلي سيمې مسئلې،د آبادۍ د ډېرېدو مسئلې،د روپۍ د قدر د کمي شرح،بې روزګاري،سياسي بحران،ثقافتي بحران،د هندو او مسلمان په مېنځ کښې فرق،سمجوتا ايکسپريس بمي چاؤدنې،د مهاجرو مسئلې،د شناخت ستونزې او داسې نورې ډېرې شخړې د ما بعد جديد رجحان د وجود سوب

وګرځېدې.د ستونزو په دې ډېرې کښې پر له پسې نورې ډېرې داخلي او خارجي مسئلو او شخړو سر وهل شروع کړۀ.د ما بعد جديد شاعرۍ د موضوعاتو په حقله وهاب اشرفي ليکي:

"یہ بات وثوق سے کہی جاسکتی ہے کہ شعریات کے لیے مباحث نئ تھیوری سے ابھرے ہیں جس میں لسانی پہلوؤں کا احاطہ غیر معمولی انداز اختیار کر چکا ہے۔نہ تو ترقی پسند شعریات میں ایسا کچھ تھا اور نہ ہی جدیدیت میں ۔ اس کے بعد کی صورت بہت پیچیدہ ہو چکی ہے ۔اگر ہم جدید ترین شعریات کے اساسی او ربنیادی لسانی افکار کا جائزہ لیں تو معمولی سی بات بھی گہرائیوں میں اتر کر نئ معلومات سے لیس ہونے کی طرف راغب کرے گی اور زیادہ گفتگو متن اور متون کی سطح پر ہو گی اور محسوسات ، خیالات اور افکار کی بھی اپنی اہمیت ہو گی۔یہی وہ مرحلہ ہے جہاں سے مابعد جدیدیت کے باب میں غلط فہمیوں کا سلسلہ شروع ہوتا ہے اور اس کے دوسرے بہت نمایاں نکات بھی پس پست چلے جاتے ہیں یا ڈال دیئے جاتے ہیں۔لیکن نئ شعریات کس طرح ایک بار ہمیں اپنی جڑوں سے وابستہ کرنے ، اپنی تہذیب اور ثقافت کا امین اور محافظ بننے ، اپنی علاقائی بولی ٹھولی اور دوسری روایتوں کا تجاوز کرنے ، اعتقادات کے اختلاف کو برداشت کرنے ،رنگ و نسل کی نبیاد پر مصنوعی درجات کو ختم کرنے ، اپنی ذات میں گم ہو کر ذہنی پژمردگی اور قنوطیت کے خلاف صف آرا ہو کر مثبت اندازِ زندگی اختیار کرنے اور اجتماعی راہ ورسم بڑھانے اور منجمد سچائیوں سے ٹکرانے اور ان کے متنوع اور بدلتے ہوئے پہلوؤں پر نگاہ رکھنے کی تلقین کرتی ہے۔یہ سارے امور ہماری آنکھوں سے اوجھل رہتے ہیں اور ہم تکنیکی مباحث میں الجھ کر جدید ترین شعریات کے کھلے ہوئے مثبت پہلوؤں سے بے خبر رہتے ہیں ۔میرا اپنا خیال ہے کہ مابعد جدیدیت کی کوئی شعریات ہے تو اس کی تعبیر زندگی اور اس کے اثبات سے ہوتی ہے اور اس فکر کا کوئی رد ممکن

نہیں۔''[3]

وهاب اشرفي چې کومو پنيادي نقطو ته پام لرنه کړيده په هغې کښې د انسان تهذيبي شناخت سره سره د جديدو ستونزو چېلنجز سره د مخ کېدلو اجتماعي هڅې کولو ته هڅول هم دي.په دې کښې دا هم ده چې په جديدو ستونزو کښې د راګېرېدو باوجود ژوند په څهٔ طريقه ښکلے او ښائسته جوړېدې شي.بل دا چې ستونزه ستونزه نهٔ ګڼل بلکې د ژوند حصه تسليمول اوبيا د هغې سره سم انسان له ځان خوشحاله ساتل.

زمـــــا دعمـــــــره ســــــره ســــــمه

ميـرات شـې غمـه پـه خنـدا دې تېرووممـه

د ما بعد جديديت نه چې کوم موضوعات راوزېږېدل په هغې کښې د خارجي حقيقت نه حاصلېدونکي تجربې او مشاهدې د ذکر وړ دي.ځکه چې دا دور ما بعد جديد سره سره د د ما بعد رښتيا هم بيانيه ده.په دې بيانيه کښې ژبني اظهار ته مرکزي حېثيت حاصل دے.دې د معروضي صداقت په تصور هم کوته پورته کړي ده.د ژبني اظهار د تصور نه د متن اوليت په ډاګه کېږي.هغه متن چې د ما قبل د څهٔ نهٔ څهٔ متن افهام اوتفهيم او تجزيه کوي. د ما قبل د متن نه پخوانۍ قيصې،داستانونه ،ديومالائي او اساطيري فن پارې مطلب دے.ما بعد جديديت په ديومالائي عناصرو انساني ژوند د تهذيب او ثقافت سره وتړلو او دغسې چې کومه شاعري مېنځ ته راغله په هغې کښې هم اساطري رنګ ښکاري.ما بعد جديديت د زمان او مکان د حدونو نه تېر شو او نوي اقدار او روايات يې خپل کړل.او کومه شاعري چې د بايزيد انصاري او اخوند درويزه په مسلکي رنګ او بڼه کښې موجوده وه د هغې تفهيم نو يې ومړو او په نوي انداز يې مونږ په ثقافتي تړون کښې ګډه کړو.دغسې ئې د پټې

خزانې قديمه شاعري په نوي اهنګ او رنګ کښې رنګ کړه او د ما بعد جديد تصوراتو په بنياد يې پکښې نوې معنې او روح وپوکو. دغسې يې د خوشحال بابا او رحمان بابا سره سره د حميد بابا ،علي خان ،کاظم خان شېدا ،او په تېره تېره د حمزه بابا ،غني خان ،سليم،انديش،ګران،اجمل ختټک او نورو ډېرو شاعرانود کلامونو پلټنه وکړې شوه او د مابعد جديد معنې يې ترې راويستلې،د ما بعد جديديت په تناظر کښې چې کومې غزلې وليکلې شوې په هغې کښې دغه موضوعات جوت دي:

۱- بې اطميناني،بې چېني او بې يقيني
۲- انسان دوستي،اخوت او محبت د وخت د ضرورت مطابق بدلېږي
۳- د حالاتو او اخلاقياتو تنګ نظري
۴- نۀ پکښې د څۀ رجحان او نۀ پکښې د څۀ ازم بيان اونۀ څۀ منشور نۀ ميني فيسټو
۵- د تهذيبي فکر پلټنه
۶- د سيچوېشنل کېفياتو اظهار،سټائل،عادات او اطوار،فېشن او شناخت وغېره
۷- د ازاد او غښتلي فکر الوت
۸- د ذاتي او غېر ذاتي بيانيې اظهار
۹- تشبيهات او استعارات صرف د خپل ذوق د تسکين دپاره کارول
۱۰- د سائنسي تجرباتو لاس راوړنې وړاندې کول
۱۱- د کلي حقيقت ادراک
۱۲- د جذباتو او احساساتو ختمېدونکے تصور.

په دې حقله سيد محمد عقيل ليکي:

> "نیا غزل گو، حقیقتوں کو نہ تو خالص جذبات کے حوالے کرتا ہے اور نہ ہی انہیں علامتوں کے پردوں میں چھپا رہا ہے بلکہ اس کا رد عمل ایک لا تعلق انسان کا سا ہے۔ زندگی کے رویوں کے ساتھ اس کا برتاؤ بالکل راست ہے۔ اسے وابستگی اور ناوابستگی بھی پریشان نہیں کرتیں وہ خالص تجربہ پسند (Empiricists) بھی نہیں اور نہ ہی اندھا مقلد"[4]

۱۳۔ په نوي غزل کښې نۀ جوش شته نۀ غورځنګ بلکې دا په ساده بيانۍ کښې د ابلاغ هڅه کوي

۱۴۔ د ورکېدونکي اقدارو بيا راژوندي کول

۱۵۔ د ماضي نه تر حال او د حال نه مستقبل ته سفر

۱۶۔ د نوي ژوند ،نوي حسرت او نوي تعبيرونو اظهار

۱۷۔ په نوي تشبيهاتو او استعارو کښې په ترکيبونو کښې ندرت اوتازګي پيدا کول

۱۸۔ د قديمو تلميحاتو او اساطېري عناصرو تجديد کول

پروفېسر شهپر رسول په خپل يو مضمون" ما بعد جديد غزل يا نئی غزل" کښې ليکي:

> "۱۹۶۰ کے بعد کی غزل نے روایت سے بغاوت کا فرض انجام دیا تھا۔ ۱۹۸۰ سے بعد کی غزل یعنی مابعد جدید غزل نے جہاں زندگی کی نئی وسعتوں کو سر کیا، وہیں زبان و بیان کے توسط سے روایت کی معنی خیز گہرائیوں میں اپنی جڑیں تلاش کیں۔ مابعد جدید شعرا نے زبان کے مجازی اور تخلیقی اظہار کی نئی سمت و رفتار کے ساتھ ساتھ بارہا استعمال کیے ہوئے الفاظ کو بھی نئی اور بھرپور تخلیقی توانائی اور ندرت کے ساتھ برت کر اظہار و معنی کی نئی سمتوں اور سطحوں سے غزل کو روشن کرایا۔ غیر اطمینان بخش معاشرے اور نئے حالات کے جبر کو قبول کرتے ہوئے

ماضی قریب اور ماضی بعید کو آج کی آنکھ سے دیکھتے ہوئے حال و ماضی سے استعارے، پیکر اور جدید تلمیحات اخذ کیں۔ نیز نئے اور پرانے کا ایک حیرت خیز، طلسماتی، خوشگوار اور تازگی سے بھرپور لسانی اظہار کیا۔ اس کے علاوہ نئی شعری زبان کو مزید معنوی وسعت، حسن اور نئے لسانی زاویوں سے مزین کرنے اور مزید تخلیقی سطح پر برتنے کے ضمن میں کبھی اضافتوں سے روگردانی کا عمل سامنے آیا تو کبھی طول طویل تراکیب اور کئی کئی اضافتوں کے ا ستعمال کے ذریعے روانی ، چستی اور موسیقیت پیدا کی گئی۔"[5]

ددې حالاتو په تناظرکښې ډېرو شاعرانو خپل مخصوص تخلیقي انداز نهٔ یواځې بدل کړو بلکې د نوي حالاتو سره د مقابلې پخه اراده یې وکړه او په ډېرشدت سره یې خپل تخلیقي توان د ژوند د موضوعاتو سره اشنا کړو.دغه شان یې ځان له خپل انفرادي شناخت هم جوړ کړو.ما بعد جدید چې د کوم صورت حال نمائندګي کوي په هغې کښې ثقافتي رجحانیت، تهذیبي تحفظ، لامرکزیت، مقامیت، ساختیات، پس ساختیات، صارفیت، معاشي حقیقت نګاري،او دسچویشن مطابق تخلیق کېدونکے ادب شامل دي.د ما بعد جدیدیت پېرکار هم هغه خیالات بیانوي چې د کوم بنیادي مقصد چې د ادب تفهیم د سماجي او ثقافتي صورت حال په بنیاد وي. په دې حواله اشرفي لیکي:

"رولاں بارتھ یہ بھی کہتا ہے کہ دراصل مصنف ایک جدید شخصیت کا نام ہے جو ہمارے سماج کی پیداوار ہے جس کی نمود عہد وسطی میں ہوئی ہے ۔وہ مصنف کے تصور کو سرمایہ دارانہ آئیڈیالوجی سے تعبیر کرتا ہے۔ اس کی نگاہ میں سرمایہ دارانہ ذہنیت نے ہی مصنف کی ذات کو اتنی اہمیت دے رکھی ہے ۔ رولاں بارتھ کو حیرت ہے کہ ابھی تک ادبی تاریخ، ادبی سوانح، انٹرویو اور رسالوں میں مصنف کی ذات کو مرکزی اہمت دی جاتی رہی ہے ۔یاد داشتوں اور ڈائریوں کے ذریعے خود مصنف کی ذات کو مرکزی اہمیت دی جاتی رہی ہے۔ یادداشتوں اور

ڈائریوں کے ذریعے خود مصنف اپنی ذات کو روشن کرتا رہا ہے۔ حالانکہ ادب کے پیکر کو عوامی کلچر میں تلاش کرنا چاہیے۔
لیکن صورت یہ ہے کہ بڑی شدت سے مصنف کی ذات اس کی زندگی، اس کے میلانات وجذبات پر زور دیا جاتا ہے ۔رولاں بارتھ ایسی تنقید کا مذاق اڑاتا ہے کہ بودلیر کے ادبی کارناموں کی ناکامی دراصل خود بودلیر کی ناکامی ہے یا محض اپنے جنون کے سبب ناکام ہوا یا اپنی برائیوں کے سبب گویا ادب کی قدروقیمت ادیب کی زندگی سے ہم آہنگ کی جاتی رہی ہے جب کہ ادب سے کسی فرد ادیب کا کوئی تعلق نہیں۔"[6]

د ما بعد جدید ټول نمائندګان لیکوال کۀ د مغرب دي او کۀ د مشرق ادب يې د سماج برخه ګرځولي ده او د تهذيبي او ثقافتي سر چينو نه يې دمتن وجود خړوب کړې دے او ليکوال يا شاعر له يې دومره ارزښت نۀ دې ورکړې څومره چې يې لوستونکي او متن دپاره د متن له ارزښت ورکړې.د متن د مفهوم تعين به لوسونکے کوي ليکوال نۀ.ځکه خو په ما بعد جديديت کښې د ليکوال د مرګ اعلان شوې دے او لوستونکي له يې مرکزي حېثيت ورکړې دے.ولې چې د جديديت په تصور کښې انسان په خپل ذات کښې انختے ؤ.هغه د خپل تهذيب او ثقافت سره هيڅ کار نۀ وو او مابعد جديديت انسان د خپل تهذيب او ثقافت سره بيا وتړلو.ما بعد جديد او يويشتمې پېړۍ د ژړند هر ډګر متاثره کړې دے.سياسي صورت حال،سياسي نظام،او سياسي تغيراتو غزل تر ډېره حده متاثر کړے دے.شاعرانو هم دغه سياسي تغير قبول کړو.سياسي بدلونونو د غزل عمومي مزاج بدل کړو.سماجي بدلون هم غزل باندې خپل اثر وکړو.په اصل کښې ما بعد جديد غزل ترقي پسندي،جديديت او دغسې نورو حدونو نه تېر شو او د ژوند په وسعتونو کښې يې د ژوند د لټون لارې چارې په ګوته کړې. نوې نوې تجربې، احساسات، تشبيهات،

استعارات، تلازمات، ژبه،اظهار او اسلوب،علامتونه او ډکشن هر څۀ يې خپل دي د کومو تعلق چې نېغ په نېغه د خپل تهذيب او ثقافت،رسم و رواج ،سياست او معاشرت،مذهب،او ادب سره دے.ددې دور شاعر سياسي شعور لري.هغه په سياسي نظام کوته هم پورته کوي او پېروي يې هم کوي.د هغه سره ددغې سياسي نظام برخه جوړېدو خپل علت هم شته کۀ هر څومره هغه ددغې سياسي نظام د لاندي باندي جبر او استبداد نه خبر دے.هغه د ژبې او بيان په ځاے د سياسي لوړې ژورې خبره کوي.په دوي کښې داسې غزل ګو شاعران هم شته چې د سياسي نظام د جبر ښکار شوي دي.د نمونې دپاره د څو شاعرانو ددې شعرونو نه مونږ دغه اندازه لګولې شو.

حمزه بابا

اے زما پښتون ارمانه اسرې پرېږده چې کامل شې
ستا د ظرفِ امتحان ته خو لازمه بې کسي ده[7]

خپلو کښې کـه چرته د انسان د انسان جوړه شي
هلـه بـامعنې بـه صحيفه د جهان جوړه شي[8]

اجمل خټک

غټان، غټان، نېکان، نېکان پېدا دي
دوي خو لۀ ځانه جنتيان پېدا دي
څئ هغې خوارولـه جنت وګټو
څوک چې دَ موره دوزخيان پېدا دي[9]

يا داچې

څوک پۀ سرونو باندې پښې کېږدي
څوک دَ فتوؤ پۀ ډزو ځان لوړوي
زما اؤ ستا پۀ شانې ورک لېوني

ځــان ورکــوي خــو ټــول انســان لــوړوي.[10]

## یا دا چې

دَ ګُـل رګونـو کښـې چـې ژونـد اوسـېږي نُـور اوسـېږي
یــا دَ انګــور غنچــه کښــې مینــه اؤ ســرور اوســېږي
ښـکلي هېـواد کښـې دَ پښـتون دغسـې ژونـد غــواړم
مینه،ښائســت اؤ ورورولــۍ ډکــې دَ خونــد غــواړم
دا مــې منــزل دا مــې جنــت دے، ور روان یــم ورتــه
نـۀ پـۀ مُـلا یـم، نـۀ پـۀ خـان یـم، نـۀ پـۀ ځـان یـم ورتـه
چــې هــر عــذاب وي دغــه لاره کښــې لــذت دے راتــه
کـۀ سـرې لمبې شـي دَ چـا مینـه کښې جنـت دے راتـه[11]

## رحمت شاه سائل

مــونږ د منصــور د جنــون، تــا د مــلا لار اونیــوه
تــا د ثــواب مــونږ د الفــت د ګنــاه لار اونیــوه[12]
چې نمر سپوږمۍ هم ورلـه لوبـو لـه راتلـۀ او غـواړي
خدایــه څــۀ داســې پســرلے پــۀ ګلســتان راولــې[13]

## اشرف مفتون

"لاړ شــه هــاغې ځــاے، هــاغې دنیــا، هــاغې جهــان تــه
هاغې نمر ، سپوږمۍ ، ستورو ، خلا ، مزکې ، آسمان ته
چرتــه چــې مــذهب د هــر انســان انســانیت دے
خلقــو ســره مینــه محبــت لــوے عبــادت دے
چرتــه چــې دعــا ، ثنــاء ، تقــاء کښــې موســیقي ده
جـوش ، وجـد ، مسـتۍ کښـې مسـته مینـه حقیقـي ده
چرتــه چــې د کیــف او د ســرور نــه ســاز جهــان دے
لاړ شــه هغــې ځــاے تــه خیالــه هغــه ســتا جهــان دے"[14]
کــه شــرافت نــۀ وي د کــور مکتــب کښــې

شریف به نهٔ شي په مونځونو باندې"[15]

## سیف الرحمان سلیم

څاڅکي اوبه هم کلک اودهٔ سړي راولَړزوي
ځنګه اودهٔ شم چې هر خوا اوښکو ژړا ته ګورم
د اقتدار حمام د ټولو نه جامې وویستې
خان جي ته ګورم کهٔ قاضي ته کهٔ ملا ته ګورم[16]
د محتسب زړهٔ کښې څهٔ غلا ده ضرور
چې سازو خلقو پسې غلهٔ خوروي
زما خبرو نه قدغن لرې کړه
نو افواګانې به څوک نهٔ خوروي[17]
دَ راوي جل پرۍ څهٔ باندې نازېږي
زهٔ پخپله شهزاده دَ اباسین یم[18]
دَ راوي تندې دې ولې راته تریؤ شي
کهٔ مئین زهٔ په شالم اؤ سردریاب یم[19]

## اکرام الله ګران

چرته څهٔ وینې د مظلوم خو نه دي
واعظه خبر دې زهٔ مېخوار ښهٔ یم[20]
زما د برخې حورې ستا شوې ملا
د لیونۍ له سترګو ځار ښهٔ یم[21]
اف زاهده دومره وارخطا شولې
شړنګ خو د پانزیبو زلزله نه ده[22]
واعظه مه غولوه ګران اوس د جنت په ګلو
په نمر زېړي کښې ئې لیدلي د ګودر ګلونه[23]

## ډاکټر اباسین یوسفزے

د رب د پاره پښتنو ځانونه اوپېژنئ

ستاسو د پاره خو به ځان له پېغمبر نۀ راځي"[24]
ځلمو راپاسئ مغربي جاکړ ته لاري نيسو
د مشرقي ځوانئ غندل مو بې نېټې ماتېږي"[25]
چې هر يو کس لکه زمرے په خپل غرور کښې ګرځي
دا پښتونخوا راته ښېديا ښکاري ځنګل ښکاري[26]
مدام د جهالت په اوور کښې سوزي ليوني
هر څو که په غېرت کښې بې مثال دي پښتانۀ[27]
"خدايه بچ مې کړې پښتون له دې فساده
هسې نه چې پښتونخوا مې شي برباده "ـ [28]

داسې په سلګونو شعرونه دي چې زمونږ د دور د سياسي او سماجي حالاتو عکاسي کوي.په دغه شعرونو کښې د وخت حقائق او رښتيا په نظر راځي.په هر دور کښې مفاد پرستو سياسي او سماجي مشرانو انساني شخصيت مجروح کړې دے.د ويرې او ترهې ماحول يې جوړ کړې دے.د ترهه ګرۍ په الزام کښې ډېر بې ګناه خلق قېديان شول .ما بعد جديد شاعرانو خپله وظيفه تر سره کړه او خلقو ته يې دا احساس ورکړو چې په اولس کېدونکے ظلم ا ستم به ښۀ په ډاګه بيانوي.پروټسټ،سټرائک يا بيا په سوشل مېډيا ددې خبرو تشهير کوي.اولس ته دا خبره هم په ګوته کول چې سياسي خلق هغوي ګمراه کوي او د هغوي استحصال کوي.دوي د خپل ذاتي مفاد دپاره استعمالوي.پښتو غزل په هر دور کښې د سياسي حالاتو عکاسي کړې ده.د پټې خزانې نه تر مرزا خان انصاري او بيا خوشحال بابا او رحمان بابا سره سم د نن دور پورې پښتو غزل په سياسي نظام په هر ډول کښې تنقيد کړې دے او د ظلم او جبر خلاف يې اواز هم پورته کړې دے.

د مغلو تیمور هسې په اور وسوم
چې به هیر په دې ماتم زمیندا ورکړم[29]

چې بادشاه یې ستمګر شي خلق خوار شي
خدائے دې نۀ کړه ستمګر بادشاه د چا[30]

چې دا نا تر نادان لا ژوني بتر
مګر نۀ دے دا ژوندون څۀ معتبر
مکافات د کوم ګناه د کوم شامت دے
چې ډبر د میر جمله شو درست تبر
څه شینواري څه مهمند څۀ اپریدي وو
چې ئې مات کړ د صوبې واړه لښکر
دا طوفان چې په مغلو باندې ساز شو
په کشتن په الجو هیڅ مکړه نظر
په زرګونو پښتنو کړې تر ځان لاندې
دا به څوک کړه د مغل له زړۀ بدر
مستجاب مهمند کړه چرګه د مغل ده
زۀ خوشحال خټک خو باز یم ځائے مې غر"[31]

"پرورده کړه د مغلو په نمک یم
د اورنګ له جوره هم له غربوه ډک یم
په ناحق یې په زندان کړم یو څو کاله
خدائے خبر دے کړه په خپل ګناه زۀ شک یم
پښتنو سره زړۀ تور دے د مغلو
خبردار ئې په نیستو نو یک په یک یم

اور ئې په پورې په منصب په نوکرۍ شه
چې تر فهم و تر نظر د مغل کک یم
هر پښتون چې د مغلو نوکري که
که دې زده د هغو وارو بهترک یم
چې منصب مې د مغل خوړه ملک وم
چې منصب د مغل نشته اوس ملک یم
چې نیولې مې دا هوډ د ننګ و نام دے
که له خپله هوډه واوړم کنیزک یم"32

که څوک تله د انصاف درته په لاس کا
خپل ټټو د بل له اسه برابر کړې

تو لعنت په دا هسې منصفۍ شه
چې له حقه و باطل وته ګذر کړې[33]

منصفانو له ره بویه چې انصاف کا
نۀ چې نغوته کا د حرص او د هوا[34]

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او اور او پېښور درې واړه یو دي[35]

اورنګ زیب هم یو فقیر وۀ
چې ټوپۍ ئې وه په سر
و ټوپۍ و ته ئې شاه کړه
چې قادر شو پر افسر
خوئې هومره فقیري وه

چې څۀ نه وو میسر
ګوره څۀ چاري ئې اوکړې
په عیال د خپل پدر
وار په وار ئې تر تیغ تیر کړه
د خرم تمام ټبر
یو ټبر د خرم څۀ وۀ
ډېر عالم ئې کړۀ ډبر
حق ئې پاتې په ګردن شۀ
دسپاهي او د چاکر[36]

څۀ شو که دې سترګو قافلې د صبر لوټ کړې
نۀ شي سلامت تللے مغل په خیبري کښې[37]

دا مې زړۀ د یار د غم سره لوخیږي
که جنګیږي په خپل برید مغل پښتون[38]

په کینه د هغو سترګو راته ګوري
چې خراج د پښتانه د مغل اخلي[39]

خوب خندا قرار به څۀ کوم بې تانه
چې ببلتون دې راپسې لکه مغل شۀ[40]

دانائي حکمت نصیب د سرو مغلو
پښتانۀ ته جهل خوږ لکه شکرې[41]

که له نوج سره پرې ګډ شجاع رستم شي

زر بــــه واوري پــــه سيســــتان چېغـــي د بـــورو[42]

نـــــئ لـــــيکم زۀ مترقـــــي غزلـــــې نـــــئ لـــــيکم
رجعــت پســند يمــه چــې ديــن او هــم مــذهب منمــه
د ديــن مــذهب ټېکــه داران رانــه پــه دې خفــه دي
چــې زۀ اول ديــن او مــذهب او بيــا نســب ګڼمــه
زړۀ راتــه وائــي چــې افغــان او مســلمان يــادوه
د ځينــو نــورو ده غوښــتنه چــې اســلام يــادوه"[43]

تالـــه خـــو ســـپين روبـــي د حمـــزه لـــه خـــوا
درغلــــئ جرګـــــه خـــــورا ســـــتانۀ دې کـــــړۀ[44]

راوړے لــــه فطرتــــه دې مــــزاج د ے د جمهــــور
پښـــتو کـــوه جرګـــې د پښـــتنو مـــۀ هېـــروه[45]

څــاځکے اوبــه هــم کلــک اودۀ ســړے راولــړزوي
څنګـه اودۀ شـم چـې هـر خـوا اوښـکو ژړا تـه ګـورم
د اقتـــدار حمـــام د ټولـــو نـــه جـــامې وويســـتې
خـان جـي تـه ګـورم کـۀ قاضـي تـه کـۀ مـلا تـه ګـورم[46]

هـــر وګـــړے چـــې د قـــام مـــې وژل کېـــږي
مـــا تـــه داســـې درد را رســـي لکـــه زۀ مـــرم[47]

تـــۀ هغـــه مـــور يـــې چـــې پـــرې فخـــر کېـــږي
تـــۀ هغـــه زور يـــې چـــې پـــرې فخـــر کېـــږي
تـــا نـــه مـــې پـــلار هـــم مـــې نيکونـــه ځـــار شـــه

تـــا نـــه زمـــا غونـــدې زرګونـــه ځـــار شـــه[48]

داســـې کلـــي کښـــې مـــې خلقـــه بودوبـــاش دے
چـــې تـــاريخ ئـــې خـــون الـــود او دلخـــراش دے
کـــۀ غـــاري دے کـــۀ عـــالِم زمـــا د خـــاورې
پـــه عـــالَم کښـــې شـــناخت د بـــدمعاش دے
د جهـــان د اســـتعمار لاس کښـــې لـــوبېږي
هـــر باچـــا زمـــا د ملـــک باچـــا د تـــاش دے[49]

محبـــت دے، تمنـــا ده، انتظـــار دے
دغـــه ژونـــد دے، دغـــه ژواک دغـــه روزګـــار دے
مـــا مئـــين تـــه د مـــاښو خبـــرې مـــۀ کـــړئ
محبـــت پـــۀ کښـــې د ســـپي د لکـــۍ خـــوار دے[50]

غرض دا چې په پښتو غزل کښې سياسي موضوعات رادننه کېدل غېر شعوري عمل دے.ما بعد جديد غزل دغې موضوعاتو ته ډېره توجه ورکړه او ډېرو شاعرانو دغسې مضانين په خپل غزل کښې ځاے کړل.دا د ما بعد جديد حالاتو تقاضه هم وه چې شاعران دې د خپل دور سره سم د حالاتو ترجمان هم وي او اولس دې د ويرې او ترهې د کيفيت نه د ژوند په لور راويستلو هڅې وکړي.

چـــې نشـــه دَ اســـتبداد لـــري پـــۀ ســـر کښـــې
ماتـــه يـــؤ دے کـــۀ مغـــل دے کـــۀ افغـــان
چـــې زمـــا دَ کـــور ازغـــي تـــه کـــاږۀ ګـــوري
وېمـــه اور شـــوے دَهغـــۀ پـــۀ ګلســـتان[51]

پـــۀ زمانـــه يـــؤ څـــو غتهـــان قـــابض دي

خدایا پهٔ تا رانه مُلیان قابض دي
غریب ته سُڼ دَ خلې ویستل کفر دے
پهٔ خدایۍ غټ غټ انسانان قابض دي[52]

بادشاهي د جهان څهٔ کړي؟
ځان له ولې زیاتۍ غم؟
د انصاف تلل مشکل دي
څهٔ به ډېر کړي څهٔ به کم
داسې تخت به څهٔ کړي څهٔ کړي
چې پرې شپه او ورځې ژاړي
خپل غمونه دې لا لږ دي
د جهان غمونه غواړي؟
بادشاهي هله جوړېږي
چې نیم اولګي نیم مړهٔ کړي
چې یو کس د بل پهٔ غوښو
د خپل کور کوتري ماړهٔ کړي
ددې ژونده څهٔ مطلب شو
چې یا مرې یا به بل وژنې
دا مېوه ګلاب د څهٔ شو
باغ ساتې او بلبل وژنې
ربه ! ماله کهٔ دې راکړه
بادشاهي د کل جهان
زهٔ به ئې اوغورځوم له کوره
لکه سوځې پهٔ ډېران
دا یو دوه ګړۍ ژوندون زهٔ
پهٔ جګړو نهٔ شم تېرولے

ددې ظلم پۀ کتهوی دې
ربه! بل کېږده برغولے
ماله راکړه ښو ګلونه
یو نیازبین شانتې جانان
یو وړوکے غوندې باغ
او پۀ خوا ئې سیند روان
چې ئې زۀ پۀ غاړه ناست یم
پۀ یخ سورې د خرولې
پۀ مزه مزه لیکمه
د مزې مزې غزلې
کله سوال منت جانان ته
کله بد او رد مُلا ته
بادشاهي هغو له ورکه
چې زغملے ئې شي زور
چې پۀ لاس لکه قصاب وي
پۀ خصلت لکه منګور
چې خپل ځان ته شي کولے
قرباني د رور د وینې
هم هضمولے هم خوړے شي
د غریب د غوښو پینې
تاج اوړلے هغه سر شي
چې وژل لکه وبا کړه
لکه پړانګ داړل ښیرل کړه
ویرول لکه بلا کړه
تخت هم نۀ پائي بې زوره
بې د توري د جلاده

بادشاهان چې څومره ډېر وي
دومره وي دنیا بربادہ
لوئے بادشاه وي لویه ژوره
دے په وینو زوو پائي
بادشاهي لکه د اور
په اوو تو په سوؤ پائي
ربه! فضل په مونږ اوکړه
مونږ ساته له دې اٰفته
چرته غټ خر ته په شا کړه
دا د سرو لا لونو کته
سفارش ورته دا اوکه
صیب زمونږه د بابته
وے پام کوه د دله خره
غني او نۀ وئے په لته [53]

قام چې څوک وژني غدار وي
چې غدار وي په دین خوار وي
زۀ خواخوږے د خپل قام یم
زۀ د هر پښتون غلام یم[54]

اوسه پورې مې مغل وته سر ټیټ دے
کۀ بیا ځان ورته پښتون کړم څه به کیږي[55]

"کوم کارونه چې د کړو دي هغه کیږي پۀ کولو
د جهان سمون ځیګره پۀ دعا پۀ ښېرو نۀ شي"[56]

"رالــــه جـــوړه دې خــــدائي خـــدمتګاري کـــړه
د پښـــــتون د ســــترګو تــــور فخــــرِ افغانـــــه!
ســـــتا لمـــــن او د ســـــاقي دواړه لاســـــونه
دې ببـــل نـــهٔ شـــي، ســوال کــوم د پــاک مــولا نــه"[57]

د پښتو غزل د خپل تهذيب او ثقافت سره تړون مسلم دے.په هر دور کښې پښتو غزل د خپل تاريخ،سياسي،سماجي،او تهذيبي حالاتو ترجماني کړې ده.د اکبر زميندا‌ور نه تر دې دمه د غزل بنياد په تهذيبي او سماجي روايت قائم دے.غزل کښې د سماجي صورت حال عکاسي او تړون سره د خپل وخت او حالاتو ترجماني موجوده ده.بيا په تېره تېره د وطن د ازادۍ د سفر په وخت د تهذيبي شناخت،د اقدارو او رواياتو د جابر فرنګي په پښو کښې چقېدل،ددې سره سم د سماجي ادارو زوال او دغسې نورې ستونزې هم د غزل په وجود کښې بيان شوې.ددغه وخت د غزل اشارې او کنايې د وخت د انقلاب آئينې دي.ددغې وخت غزل ارزښتناک ځکه دے چې عصري شخړې،د ازادۍ دپاره نعرې،او په زلميو کښې د روحانيت د روح پوکل او د سماجي بقا په خاطر د تهذيبي شناخت تبليغ کوي.د تقسيم هند نه پس ډېرو شاعرانو د د فساداتو او ظلم او جبر خلاف اواز پورته کړو.د جديديت شاعرانو سماجي غوښتنې په تناظر کښې د تهذيبي تړون او يو والي په اډانړه د قومي يو والي په ضرورت قلم پورته کړو.دغسې د ما بعد جديد دور پورې صورت حال ډېر بدل شو.نوي اقدار وضع کړې شو.تهذيبي او ثقافتي ادارې په نوي رنګ رنګ کړې شوې.په معاشره کښې د وسېدونکي انسان ژوند نور هم تېز شوچې په نتيجه کښې يې دغه انسان د تهذيبي بحران ښکار شو .ددغې معروضي حالاتو په تناظر کښې ددې دور شاعر د تهذيبي تحفظ په خاطر د نوې معاشرې د تشکيل هڅې شروع کړې. د دوي د وړاندې يوه داسې معاشره وه

چې د خپلې سماجي او تهذيبي بقا په خاطر يې هڅې کولې.ځکه چې د کومې معاشرې تشکيل روان وو په هغې کښې سماجي او تهذيبي تړون ډېر سست وو.عالمګيريت تهذيبي فاصلې لنډې کړې. د اليکټرانک مېډيا سره سم سوشل مېډيا هم انساني ژوند په خپله ولقه کښې واخستو.هر څۀ د موبائل تر سکرينه راورسېدل.ژوند د خود غرضۍ ،روایاتو او اقدارو د روايتي فکر د دائرې نه وتل شروع کړل،اخلاقي تنزل ،موقع پرستي،او مفاد پرستي د ژوند په مرۍ داسې غلې شول چې د ساه ډوبۍ فضا جوړه شوه.په داسې ساه ډوبي ماحول کښې د مابعد جديد شاعرانو د خپلې تهذيبي بقا،او شناخت په خاطر خپل کلمونه وسنجول او د معاشرتي ،تهذيبي او ثقافتي تحفظ دپاره يې په نوي انداز شاعري شروع کړه.ددې شاعرۍ مقصد خپل اولس د خپلې تهذيبي او ثقافتي پنګې سره اشنا کول وو.ددې دور شاعرانو د حالاتو داسې منظر کشي وکړه چې هر وګړې يې په سوچ مجبور کړو.دغه غزل په روايتي انداز کښې د جديد دور جديده بيانيه هم راوړه.د يو فرد احساس له يې د اجتماعيت رنګ ورکولو کښې خپل کردار ولوبولو.

"چې دښمن ورک کړي او ځان کلک کړي حکمت دے
چې خپل ځان ورسره ورک کړي شجاعت دے
چې ځان ورک کړي او دښمن شي ترې نه پاتې
دا کانې په چا وځ شه، هلاکت دے"[58]

"اے زمونږ د غم غمخوره! ستړے مۀ شې
د پښتون پۀ تګ سرتوره ستړے مۀ شې
تا زمونږ ستړګي بينا کړې ننګياليه!
د هر چا د سترګو توره ستړے مۀ شې
د ظالم د سترګو خار فخرِ افغانه!

د مظلـــوم د زړۀ ټکـــوره ســـتړے مـــۀ شـــې
تـــۀ مئـــین پـــه پښـــتنو او دوي پـــۀ تـــا دي
دا نعـــرې دي لـــور د لـــوره ســـتړے مـــۀ شـــې
لـــوئے لعنـــت د پېرنګیـــانو غلامـــي وه
مـونږ دې خـلاص کـړو لـۀ پېغـوره سـتړے مـۀ شـې
اتـۀ کالـه قېـد دې تېـر کـړو پاکسـتان کښـې
خـــدا ے راوویســـتې د اوره ســـتړے مـــۀ شـــې
شـــکر شـــکر د ے چـــې بیـــا مـــو دیـــدن وشـــو
ا ے زمـــونږ د دعـــا ســـوره ســـتړے مـــۀ شـــې
مـــونږه مـــلا پرانســـتې نـــۀ ده لا تراوســـه
د هـــر چـــا ســـترګو تـــه ګـــوره ســـتړے مـــۀ شـــې
چـــې تـــر څـــو منـــزل تـــه نـــۀ یـــو رســـېدلي
واپـــس نـــۀ درومـــو تـــر ګـــوره ســـتړے مـــۀ شـــې
د ظـــالم لـــۀ بـــدو ســـترګو پـــه امـــان شـــې
د خوارانـــو بـــاغ سمســـوره ســـتړے مـــۀ شـــې
د ســـاقي جامونـــه ډک لـــه ســـرو شـــرابو
دا پیالـــۀ مـــۀ شـــه نســـکوره ســـتړے مـــۀ شـــې"[59]

چـــــې غورزنـــــګ مـــــې اوکـــــړو دار تـــــه
پښـــــــتنو د لار پـــــــــل شـــــــــوم
زۀ غـــــــــــلام د اولســـــــــــونو
اولســـــونو ســـــره مـــــل شـــــوم[60]

کـاروان سـره کـۀ نـۀ یـم خـو منـزل راتـه معلـوم د ے
پـــه نویـــو نـــا بلـــده پـــه اوږدو لارو ورځمـــه
هـم دا چـې پـه خلـوص مـې چرتـه ګوتـه یـار کښـېنږدي

د غلـو پشـانې نـۀ يـم، نـۀ پـه غلـو لارو ورځمـه[61]

زلميـــه پـــه وختونـــو کښـــې بهېـــږي وايـــه ولـــې
وختونـه خـو هـم تـۀ پېـدا کـولے شـي راسـتون شـۀ
دا ګرانــه دومــره ګرانــه نـۀ ده ګرانــه چــې ښـکارېږي
اسـانه ده اسـانه خـو تـۀ لـږ غونـدې پښـتون شـۀ[62]

زۀ ننګيـالے يمـه د تـا پـه بـې پتـۍ مـې څـۀ شـي
يمـه پښـتون لـه خپلـه هـوډه اوړېـدے نـۀ شـمه[63]

خپلـو کښـې کـه چرتـه د انسـان د انسـان جـوړه شـي
هلـه بـامعنې بـه صـحيفه د جهـان جـوړه شـي[64]

لـــــوړ ژور لا پښـــــتني همـــــت تـــــه څـــــۀ دي
دَ ســــــيندونو غونـــــدې لار پېـــــدا کـــــوه[65]

اوس دې شـمله راتـه ښـکاره شـي دَ غېـرت رېبځـه
پښـتونه ننـګ چـې درنـه پـاتې شـو پګـړۍ مـۀ وهـه
سـتم دې خبـر خـو پښـتني جذبـه مـې مـۀ لمسـوه
لار دَ وفـا مـې پـه شـوکمارو بـې پتـۍ مـه وهـه[66]

چــې ګــل غــواړې پــه ازغــو بانــدې ښـنے ښـنے شـه
هــر اوچــت ســر دے پــه دار کــۀ پــه دار نــۀ دے

د شــــــبنم پــــــه ژړا خانـــــدې ګـــــــل او رڼې
د ازاره چــــا مونـــــدلے بـــــازار نـــــۀ دے[67]

(فضل حق شېدا)

ګل مې ګل کۀ دے خو تۀ يې بې له تا نازکه ياره
هر يو ګل راته ازغے شي راته سترګو کښې غړېږي[68]
(اجمل خټک)

يـو موهومـه شـان مسـتي ده پـه فضـا کښـې
لکـه خيـال وي د مېخـوار پـه سـېل وتلـے[69]
(يونس خليل)

لکه ستوري چې خپل سيوري د اوبو پـه آئينـه کښې
پـه اوتـر اوتـر نظـر کښې ګوري ګوري پـه خندا شي

يـا سـپوږمۍ سـپينه ځلېږي لـه اودي اودي اسـمانه
جهـان واړه منـور شـي بـې قـراره دا فضـا شـي[70]
(همېش خليل)

اوس دې د زلفـو د خـم خـام دے پکـار
زمـونږ پـه هـر يـو قـدم دام دے پکـار

د زړګـي حـرم مـې خدايـه تـرې محفـوظ کـړې
چـې ئـې سـترګې ابرهـه کاکـل ئـې فيـل شـو[71]
(قلندر مومند)

مـا وے څۀ لـه راجمع دي دا سـپين سـپېځلي خلـک
چااووے چې نيلام دے د سرونو پـه دے بـنار کښې[72]

ګـــل د ګـــل چـــين ســـهي ګلشـــن د ګلبـــدنو ســـهي
هغـه ازغـے مې هم د زړۀ پـه سر کښـې پـاتې نـۀ شـو[73]
(رحمت شاه سائل)

حـالات مـې د وجـود د هـر انـدام نـه وينـه څښـي
ژورې مـــې لګيـــا دي پـــه ځـــوانئ خـــورې ورې[74]

چينـــو تـــه لارې بنـــدې ګودرونـــه شـــو تـــول شـــاړ
تـــوکېږي تلمېـــرې د خـــوړ پـــه ژئ خـــورې ورې
ســـتا يادونـــه مـــې پـــه زړۀ داســـې خـــوارۀ دي
لکـــه ونـــې نـــه چـــې کـــور غبـــرګه راتـــاؤ کـــړي[75]

د بنو پــه غـاښـور ئـې تـول خوبونـه رانـه تـول کـړه
خدايه بيا مخې لـه راغله لېونئ پـه ماښـامي کښـې[76]
اباسين يوسفزے

اوتـر اوتـر پـردے پـردے يمـه پـه خپـل وطـن کښـې
د ژوند پـه څانګه د بـدلون نغمـې تـه ژونـد تـږووم

مابعد جديد غزل په کثرت کښې وحدت لري.د خپل دور د ترجمانئ وظيفه تر سره کوي .ګوپي چند نارنګ ليکي:

"یہ بھی حقیقت ہے کہ ایک تکثیری سماج میں مرکزیت یا وحدت کا چیلنج ایک حد تک ہی گوارا کیا جاسکتا ہے اور نظر انداز کیے ہوئے، دوسرے یعنی جو اب تک 'غیر تھے' اس کے قلب میں آجانے کے بعد مرکزاور مقامیت میں ایک توازن کی بھی ضرورت ہوگی جس کا خواب

ہندوستان کے دستور میں رکھا گیا ہے۔بہر حال آمرانہ مقتدرات یا مراکز کا زمانہ گزر گیا جو
تکثیریت کو دبائیں یا علاقائی، اقلیتی اور قبائلی تشخص کو نظر انداز کریں۔"[77]

دغې حالاتو کښې نوي شاعرانو هم د خپل قوم او وطن ترجماني کړې ده.اود هغوي شاعرۍ د احتجاج رنګ اخستے دے.د دوې دغه احتجاج یا خو علامتي ښه لري یا ښۀ په نره په ښکاره لفظونو کښې.غرض دا چې ما بعد جدیدیت شاعران د هغه مفروضو د ولقې نه په سیاسي ،سماجیاو تهذیبي توګه ازاد کړل د کومو له وجې چې هغوي ساه ډوبې محسوسوله.اوس چې هغه ځنګه غواړي د خپلو جذباتو اظهار کولې شي.ددې وجه دا ده چې په سیاسي اړي کړي کښې هر د سیاست برخه جوړېدې هم شي او د سیاست مدارو خلاف اواز هم پورته کولې شي.د شاعراونو سره سم لوستونکي ته هم پوره اختیار جاصل شو چې هغه د شعر نه څۀ او څنګه مفهوم ولاړوي او د شاعر خیال څنګه وړاندې کوي . ما بعد جدیدیت انسان ته دا باور ورکړو چې هغه څۀ سوچ کوي او یا څنګه سوچ کوي څۀ غواړي؟ هر انسان ته پکښې په خپله ثقافتي او سماجي دائره کښې د ازاد ژوند کولو اختیار ورکړے شو نو ځکه د پښتو جدید غزل کښې هم دغه متنوع موضوعات په لاس راځي.

## حواله جات (References)

[1]شنواري، امير حمزه خان، د حمزه شنواري كلياتI ، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۳ء ، ص ۱۱۱

[2]همدغه اثر، ص ۱۳۲

[3]وہاب اشرفی، مابعد جدیدیت، مضمرات و ممکنات، ص۔۱۷۶،۱۷۷

[4]ادب کا بدلتا منظر نامہ: اردو مابعد جدیدیت پر مکالمہ، گوپی چند نارنگ، ص۔۱۶۴

[5]ادب کا بدلتا منظر نامہ: اردو مابعد جدیدیت پر مکالمہ، گوپی چند نارنگ، ص۔۱۸۸۔۱۸۹

[6]مابعد جدیدیت مضمرات و ممکنات، وہاب اشرفی، ص۔۲۳

[7]شنواري، امير حمزه خان، د حمزه شنواري كلياتI ، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۳ء، ص ۳۹۰

[8] شنواري، امير حمزه، د حمزه شنواري کليات II، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۳ء ، ص ۳۱۸

[9]اجمل خټک، دَ غېرت چغه، يونيورسټي بک اېجنسي،خېبر بازار، پېښور، ۶ اپرېل ۱۹۵۸ء،ص ع

[10]حنيف خليل، آئينې،دانش کتاب خپروندويه ټولنه، پېښور، اپرېل ۲۰۰۱ء ص ۲۳۸

[11]اجمل خټک، دَ غېرت چغه، ص ۱۱۵

[12]رحمت شاه سائل، يه زړۀ ګورے دلته به ګل نۀ سپړي، دانش خپرندويه ټولنه، وړومبے ايډيشن ۲۰۱۳ء، مخ ۲۲۔

[13]هم دغه اثر، ص ۱۳۳۔

[14]مفتون اشرف ، سکونډاري ، چاپ کال ۱۹۹۸ ، يونيورسټي بک ايجنسي پيښور ښار ، صفحې ۴۶،۴۵

[15]هم دغه ، ص۴۰۱

[16]سيف الرحمان سليم، د وړو وړو خدايانو دي بنده کړم، ص. ۱۷۹

[17] هم دغه ،ص ۲۰۱

[18] هم دغه ص ۵۷

[19] هم دغه ص ۱۰۲

[20] گران، اکرام الله، زما غزل، دوہم ایډیشن، ۲۰۰۳، لاهور، ملت ایجوکیشنل پرنټرز ، ص۹۹

[21] هم دغه ، ص۳

[22] هم دغه ، ص۴

[23] گران، اکرام الله، زما غزل ، ص۵

[24] یوسفزے پروفېسر ډاکټر اباسین، غورځنگونه، لسم چاپ، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز منگوره سوات، ، ص۳۲

[25] هم دغه کتاب، ص۱۷۱

[26] یوسفزے پروفېسر ډاکټر اباسین، غورځنگونه، لسم چاپ، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز منگوره سوات، ص۴۵

[27] یوسفزے پروفېسر ډاکټر اباسین، الوت، پنځم ایډیشن، کال ۲۰۱۳ء، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز منگوره سوات ، ص۹۹

[28] هم دغه، ص۶۱

[29] حبیبي، عبدالحی، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه) پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، س ن، ص ۱۳

[30] رسا، میا سېد رسول، ارمغانِ خوشحال دریم ځل چاپ، یونیورسټي بک اېجنسي، زاهد بشیر پریس لاهور، ۲۰۰۹ء، ص ۳۱۷

[31] رسا، میا ، سېد رسول، ارمغان خوشحال، یونیورسټي بک اېجنسي ، پېښور، دوېم ځل، ۲۰۰۹ء ، ص ۱۹ - ۲۰.

[32] همدغه اثر، ص ۲٤ - ۲٥

33 مومند، دوست محمد خان کامل، مومند قلندر، رحمان بابا کلیات، پېښور، موجوده چاپ ۲۰۱۸ء ، ص ۳٤۸

[34] همدغه اثر، ص ۱۰

[35] هم دغه اثر، ص ۲٦۳

[36] مومند، کامل ، دوست محمد خان ، او قلندر مومند (ترتیب او سمونه) د رحمان بابا کلیات، پېښور، د چاپ ځاے، ۱۹۸٤ء ص۸۳، ۸٤

[37] خلیل ، همېش ، (مرتب) دیوان حسېن، دیباچه ، پېښور، پبلک ارټ

پرېس، ۱۹۵۸ء، ص ۲۰۶
[38] هم دغه، ص۳۵۴
[39] هم دغه، ص۴۳۰
[40] خليل، همېش، (مرتب) ديوانِ اشرف خان هجري، مقدمه، پېښور، شاهين برقي پرېس، ۱۹۵۸ء، ص ۱۳۵
[41] هم دغه ، ص۲٤٥
[42] د کاظم خان شېدا ديوان، ص ٤۲۹
[43] شينواري، امير حمزه، د حمزه کليات v، ص ۲۱۴
[44] شينواري، امير حمزه، د حمزه کليات II، ص ۴۴۳
[45] هم دغه اثر، ص ۵۸۷
[46] سېف الرحمان سليم، د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم ،ص. ۱۷۹
[47] هم دغه ص ۱۵۰
[48] هم دغه ص ۱۳۸
[49] هم دغه ص ۱۹٤
[50] هم دغه ص ۱۴۷
[51] اجمل خټک، دَ غېرت چغه، ص ١٤٤
[52] هم دغه ص ۱۳۲
[53] لټون ، اول چاپ ،ستمبر 2005ء ، ص ۲۳۳-۲۳٦
[54] ايوب،صابر، ځيګرخون،دريم چاپ،داماراتو پښتوادبي ټولنه مرکزدوبۍ،ص ۲۵۷
[55] هم دغه، ص ١٦٤
[56] ساقي، فضل الرحيم، ډک جام، د رهبر د اشاعت خانګه پېښور، کال ۱۹٥٤ء، ص٦.
[57] همدغه اثر، ص ٦ .
[58] همدغه اثر، ص ٨.
[59] همدغه اثر، ٦١، ٦٢ صفحې
[60] ځيګر خون: ص ۱۲۲
هم دغه مخ ۱۹۷[61]
[62] شنواري، امير حمزه خان، د حمزه کليات V ، ص ۲۹۸
[63] حمزه کليات II، ص ۵۰۴ - ۵۰۵
[64] حمزه کليات II، ص ۳۱۸
[65] هم دغه اثر ، ص ۱۰۲

[66]هم دغه اثر ، ص ۵۷۰
[67]ص ۱۲۷خلیل،حنیف، آئینې ،د انش خپرندویې پېښور ،
[68] هم دغه ،۲۵۰ص
[69] هم دغه ، ص ۲۷۸
[70] هم دغه ، ص ۲۹۷
[71] هم دغه ، ص۳٤٤
[72] سائل، رحمت شاه ،د ښائشتونو د سپرلي بادونه ،ص ۳۰
[73] هم دغه ، ص ۱۹
[74]یوسفزے، اباسین، غورځنګونه، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز جي ټي روډ مینګوره سوات، جون[74]۲۰۱۱ء ، ص ۱٦۸
[75] هم دغه ، ص ۱۳٦
[76] هم دغه ، ص ٤۸
[77]ادب کا بدلتا منظر نامہ، اردو مابعد جدیدیت پر مکالمہ، ص۔۱۷۵